## د ثور بله غمیزه او که د افغانستان بله ناڅاپه پېښه

ډاکټر لمر

دوېمه برخه

د افغانستانه روسانو د ۱۹۸۹ میلادي کال د فبروري په ۱۵ نېټه خپل وسله وال ځواکونه وايستل او يا هم له افغانستان وتښتېدل. روسانو له ۱۹۸۹ میلادي کاله د مرحوم ډاکتر نجیب د واکمني تر نسکورېدو پورې د افغانستان له واکمنو سره اقتصادي او نظامي مرستې جاري پرېښودې، خو د افغانستان جګړې يا بر حقه جهاد داسې نښې نښانې د شوروي اتحاد په اقتصادي برخه کې پرېښې وې، چې په ۱۹۹۱ میلادي کال شوروي اتحاد هم له نړېدو سره مخامخ شو او پر ځايي ۱۵ خپلواک جمهوريتونه جوړ شول. وروسته له دې په روسيه کې داسې اقتصادي بحران رامنځ ته شو، چې د شوروي اتحاد په دوکانونو او مغازو کې حتی د خوراک شيان هم نه موندل کېدل او خلکو ته ډوډۍ، غوړ، بوره، وريژې او نور اړين خوارکي توکي په کوپون ورکول کېدل. د ۱۹۸۵ میلادي کال په بهير کې په روسانو د ودکا قحطي هم راغل، چې خلک يې په ساختګي سرابو اخته کړل او يو شمېر د دغو شرابو له برکته مړه شول. د شوروي اتحاد په اداره کې مافيايي سيستم رامنځ ته شو، چې نن سبا هم هلته يو قوي مافيايي سيستم واک چلوي.

وروسته له دې چې مرحوم ډاکتر نجیب په ۱۹۹۱ میلادي کال د اوګست له ۱۹ تر ۲۱ نېټې پورې په شوروي اتحاد کې د ميخاييل سرګېيويچ ګورباچف پر ضد د کودتا پلوي وکړه، نو د کودتا له ناکامي سره سم د ډاکتر نجیب الله د واکمني د له منځه تللو پېلامې هم رامنځ ته شوې، ځکه وروسته له ډېرې لنډې مودې شوروي اتحاد ټوټې ټوټې شو او د ګورباچف ځای هم بوريس نيکولاييويچ يلتسن ونيو، چې په نړۍ کې يې د کمونيستي سپوږمکيو د له منځه وړلوهلې ځلې پيل کړې، چې د ډاکتر نجیب د واکمني د له منځه تللو نښانې هم ورځ تر ورځې پياوړي کېدلې.



د کمونیستي یا کیڼ اړخو واکمنیو نه د افغان ولس د صبر کاسه هم ډکه شوې وه او د روسانو په راتګ یې ټولنیز پرهارونه نور هم وشړېدل، نو د افغاني دیموکراتانو یا کمونیستانو له نسکورېدو سره سم افغانان نوي بدلون ته سترګې په لاره ول او د مجاهدینو د راتګ هرکلی یې کاوه، خو نه ول خبر چې پرچمیانو نوې نانده ورته سمبال کړې ده، نو مخکې له دې چې واک د ملل متحد له غوښتنو او وړاندیزونو سره سم د ملګروملتونو تر څارنې لاندې د افغانستان مؤقت دولت ته وسپارل شي، نو د افغاني کمونیستانو لکه فرید مزدک، نجم الدین کاویاني، نبي عظیمي، احمد شاه مسعود، وکیل، رشید دوستم او یو شمېر نورو لخوا د یوې کودتا په ترڅ کې د ملل متحد د سولې پلان شنډ شو او کابل د بېلابېلو جهادي ګروپونو تر منځ ووېشل شو. جهادي ډلې هم په وهابي سلفیزم او د پان ایرانیزم په بټۍ کې پخې شوې وې او ځینو یې افغاني ضد دریځ خپل کړی ؤ. په ایران کې مېشتو ډلو په افغانستان کې هزاره جات غوښت او په پاکستان کې مېشت جمعیت اسلامي بیا د اسلام تر سیوري لاندې پان ایرانیزم او تاجکیزم ته هلې ځلې کولې، نو د افغانستان په بل اور یې غوړ وروشیندل، چې قرباني یې زموږ د هېواد ټول وګړي شول.



د اسلامي اوښتون په ترڅ کې لومړی صبغت الله مجددي د لنډې مودې لپاره واکمن شو، چې د ځینو پاڼو د لاسلیکولو په ترڅ کې ښاغلی حامد کرزی هم ورته په غوړېدونو کې بوړنېده. وروسته



له دوو میاشتو بیا مرحوم استاد رباني د مرحوم احمد شاه مسعود په مرسته واک ته ورسېد، چې له ۱۹۹۲ م کاله تر ۱۹۹۶ پورې افغانستان د تش په نامه مجاهدینو له ناورین سره مخامخ شو او په ځانګړې توګه د کابل خلک په وینو کې ولمبول شول او د نورو سیمو خلک له نورو بدمرغیو تر څنګ د تجربېدو، کړېدو او د زورواکانو د ملنډو قرباني شول.

د یادونې وړ ګڼم، چې په ایران کې لږ تر لږه ۹ جهادي ډلې وې او پښتنې ډلې یې نه درلودې او ټولې شیعه مذهبه او فارسي صفته وې. په پاکستان کې لږتر لږه ۸ رسمي راجستر شوې جهادي ډلې وې، چې په هغوی کې د ښاغلي ګلبدین حکمتیار اسلامي ګوند او د مرحوم استاد رباني جمعیت اسلامي تر ټولو پیاوړې ډلې وې او د مرحوم ملا محمد نبي، مرحوم مولوي خالص، استاد سیاف، د ښاغلي ګیلاني او حضرت صیب صبغت الله مجددي ډلو د پورته یادو شویو ډلو تر منځ ورکې وې او کوم ځانګړی دریځ یې نه درلود، خو د استاد سیاف ډله په کورنیو جګړو کې د جمعیت اسلامي پلوي کوله.

د دغو جهادي ډلو شعارونه اسلامي ول، خو په اصل کې د مرحوم پروفیسور برهان الدین رباني په ډله کې د پان ایرانیزم لېوالتیا څرګنده ده او تر ننه پورې د دغه ګوند ضد افغاني هلې ځلې روانې دي. د استاد رباني د واکمنې رامنځ ته کېدنه هم کوم تصادف نه ؤ. استاد برهان الدین رباني په ۱۹۸۹ م کال مسکو ته سفر وکړ او د مسکو هوکړه یې تر لاسه کړه او امریکایانو هم خپل غوږونه پر دغه تړون کاڼه واچول.

د مسعود-رباني په څلور کلنه واکمنې کې د پښتو او پښتنو سته وایستل شوه او د هېواد ټول رسمي لیکونه او رسمي پاڼې په فارسي شوې او د پښتو ویل او لیکل کفر ګڼل کېدل، په کوڅو کې به ویل کېدل: به زبان دوزخ ګپ نزنید!، د پوهنتون لپاره یې دانشګاه، د پوهنځي لپاره یې دانشکده غوره وګڼل او د ښوونې او روزنې لپاره یې معارف وټاکه او داسې نور بدلونونه یې په زور په خلکو وتپل، خو په زړه پورې خبره خو دا ده، چې ښاغلي سید محمد ګلابزوی د مسکو په نغوته د ډاکتر نجیب الله د واکمنې له نسکورېدو سره سم د مبارکي یو پیغام د احمد شاه

مسعود په نامه واستوه، چې د روسي په ګې «Г» حرف يې لاسليک کړی ؤ، خو ملګری ګلابزوی نه دی خبر چې په روسانو کې د ګې «Г» حرف د ګونو يانې پرېشنو يا خوشيو مانا هم ورکوي.

د نجيب الله د واکمني له نسکورېدو سره سم آوازه شوه چې ګواکې ګلابزوی له مسکوه راځي، چې په دې اړه داسې يوه ټوکه هم رامنځ ته شوې وه: کومه ورځ ښاغلی برهان الدين رباني په کومه سيمه کې روان ؤ، چې ناڅاپي يو طوطي ورته ناره کړه: خوش آمدېد! نو د رباني صيب دغه طوطي ډېر خوښ شو او د طوطا له خاونده يې رانېوه او ارګ ته يې راوړ، خو بله ورځ په ارګ کې د وزيرانو د شورا غونډه وه او ټول مجاهد وزيران راغلي ول، چې هر وزير ته به طوطي ويل، چې: «خوش آمدېد!»، خو د غونډې په نيمايي کې سيد محمد ګلابزوی په عسکري-پوليسي يونفورم کې غونډې ته ننوځي، په دې وخت د استاد رباني صيب طوطا په رمباړو پيل کوي او وايي: مرده ګ.. ها بګرېزېن کې پوليس آمد!!...

مګر د مجاهدينو په واکمني کې ملګری ګلابزوی افغانستان ته راستون نه شو، خو د سوسياليستي او کمونيستي چلند سره سم د مسکو په نغوته د کرزي په واکمني کې له خپلو سيالو پرچميانو (نورالحق علومي، بصير رنجبر او نور) د جهاديانو او استاد رباني په ملي جبهه کې ورګډ شو، چې د اسلامي-کمونيستي انترناسيونال څپې يې د ملا کرزي اخوند په واکمني کې راوخوځولې، خو ښه ويل شوي، چې کوږ بار تر منزله نه رسېږي، نو دغه بدمرغه سازشونه او جبهې هم لکه خاورينه پوله د ټولنيز سېلاب تاب را نه وړ او لکه خوړينه خواره ټول بيا وښويېدل.

جهادي ډلو د استاد برهان الدين رباني په مشري حتی د هېواد د بشپړتيا او د هېواد د لمنځه تللو ګواښ هم رامنځ ته کړ، د فدارسيون او کونفدارسيون ولولې يې رامنځ ته کړې او افغانستان يې په سيمه واکي ووېشه، چې د دوستم امارت (مزار)، علي مزاري امارت (باميان)، اسماعيل خان امارت (هرات)، نادري امارت (بغلان) او مزاري ملت او د رباني ارګ رامنځ ته شول. د مرحوم پروفيسور رباني د بې کفايتي په اړه هم خلکو ټوکې کولې، چې وايي يوه ورځ برهان الدين رباني د کابل په ستديوم کې د فوتبال لوبه کتله، نو کله چې له لوبې ارګ ته ولاړ، نو امر يې صادر کړ، چې هر فوتباليست ته يو توپ په مجاني ډول ورکړل شي، نو د ښار ښاروال ترې پوښتلي ول، چې «رئيس صاحب چرا براى هر بازيکن يک توپ حواله کرده ايد؟ نو برهان الدين رباني ورغبرګه

کړې وه، چې: «در ستدیوم آن بېچاره ها پشت یک توپ بیستو چند نفر ایسو اوسو مېدوید‌ند، بهتر است که هر کدامشان یک توپ داشته باشد!»، باز آنقدر هلاک نمې شوند او سر به یې لکه برقي پکه یو پلو او بل پلو ښوروو.



د استاد رباني له بې کفایته واکمني سره کابل ښار هم په ملکولطوایفي سیمو ووېشل شو او په هېواد کې یې کورنی اور بل کړ، چې د ۴ کلونو په اوږدو کې د (BBC) خپرونو په حواله یوائې په کابل کې له ۸۰۰۰۰ نه تر ۹۰۰۰۰ انسانان ووژل شول او د اور لمبه په ټول هېواد کې خپره شوه. مګر بې وزلو هېوادوالو خپل غبرګون داسې څرګند کړ، چې مسعود ته یې د (بز کابل شبر پنجشبر!) لقب ورکړ، نورو ملایانو ته یې د قرآنخور لقب وټاکه او ملت پخپله په وینو کې ولمبول شو، یو شمېر وتښتېدل او نور له بې واکي د خیر په غونډې لاس تر زنې کېناستل.

د جمعیت اسلامي لنډغرانو یکه تازي پیل کړه او د علي مزاري له ډلو او اوزبکانو سره یې په جګړې لاس پورې کړ، چې په دې اړه علي مزاري په خپلو مرکو کې چې په (youtube) کې موجودې دي د استاد رباني او احمد شاه مسعود لخوا د زرهاوو هزاره ګانو د بندي کېدلو او وژلو یادون کوي او جنرال سید عبدالقدوس قدوس په خپل کتاب کې د افشار ټول وژنه څېړلې او څرګنده کړې ده، خو هزاره ګانو هم پر هېڅا صرفه و نه کړه د مېرمنو له تیو یې امېلونه جوړ کړل، د خلکو په سرونو کې یې مېخونه وټکوهل او د نورو په وژلو یې «رقص مرده» په خپلو سیمو کې رواج کړ.

ملکي خلک څه وکړي، نو د هرې واکمني په اړه د خپل زړه خواله په ټوکو کې څرګندوي، نو په کابل کې د مسعود-رباني د ظلمونو په اړه هم ټوکې رامنځ ته شوې وې، چې زه یې بېلګه تاسو ته لیکم. وایي چې یوه ورځ د کابل په افشارو کې د مسعود ډلې موټر تلاشي کول، نو یو موټر ته وروختل او له ټولو یې د اسنادونو پوښتنه کوله، نو په دریېم سېټ کې یوه مېرمن په چادري کې

ناسته وه او ټوپکسالار ورنه پوښتنه وکړه چې: کیستي؟ نو مېرمنې ورته ووېل، چې: نامیم فاطیمه یه! تایموني موروم! نو بل جهادي ورته وویل، چې: بانش سیاسر است! نو سیاسره یې په کرار پرېښودله. د دغه مېرمنې تر څنګ یو هزاره نارینه ناست ؤ، نو مسعودي هغه ته مخ ورواړاوه او ویې پوښته: تو کیستي؟ نو ده ورته په ځواب کې وویل: نامم علیه، اما در خانه از ناز مره فاطیمه موګن!!...

د کابل جنګونو د علي مزاري او رشید دوستم ډلې، دې ته اړ ایستلې چې د حزب اسلامي (ګلبدین حکمتیار) سره یو ځای شي. دغو درېواړو ډلو د هماهنګي شورا رامنځ ته کړه او دا شعار په کابل کې رامنځ ته شو (هزاره و اوغو پک بېراره، هردویش ضید شورای نظاره!!)، خو دغه تړون هم ډېر وخت دوام ونکړ او کابل ته د سولې د پرېښتو (طالبانو) نیژدې کېدل ښاغلی ګلبدین حکمتیار دې ته اړ ایستی چې له چارآسیا څخه وتښتي او له برهان الدین رباني سره یو ځای شي او خپل د شورای هماهنګي سیال علي مزاري د طالبانو توپ ته په ډاګ پرېږدي.

د جهادیانو په واکمني کې د کابل په جګړو کې د علي مزاري، رشید دوستم، مسعود او د استاد سیاف ډلو بنسټیز رول لوباوه او د ګلبدین حکمتیار ډله د کابل په جنوب-غرب کې پرته وه او ویل کېږي چې په کابل یې راکټونه ویشتل. که د کابل ښار ورانیو ته وګورو، نو افشار، قلا واحد، متاوقلا، کوټه سنګي، درېیمه کارته، څلورمه کارته، دېمزنګ، ، دارالامان، چهلستون، جاده، نوې کارته او داسې نورې سیمې ورانې شوي دي، خو په دغه سیمو کې د ګلبدین حکمتیار خپل ځواکونه او د انډیوالانو (رشید دوستم او علي مزاري) لنډغران یه ځواکونه پراته ول، نو عجیبه خبره ده، چې حکمتیار په خپلو ځواکونو او د همآهنګي په دوستانو پخپله راکټونه راغورځول!

په دشت برچي، افشار، متاوقلا کې بیا د حکمتیار د سیال او سیاسي ملګري علي مزاري ځواکونه پراته ول، چې وروسته د مرحوم احمد شاه مسعود له جګړو سره له ګلبدین حکمتیار سره یو ځای شو، چې د مسعود له ظلمونو څخه هزاره ګان وژغورل شي. د زړو مکروریانونو او په جاده کې بیا د دوستم قواوې پرتې وې، چې د اسلامي اوښتون په سر کې له احمد شاه مسعود سره یو ځای ؤ او بیا دواړو په یو او بل پسې راواخیسته. د کمونیستانو دوه-ځلې جګړه له

مسعود سره کمونیست نبي عظیمي هم په خپل کتاب کې راسپړلې ده او د جګړو پړه یې په نورو اچولې او له ځانه یې ټولنیزه پرښته جوړه کړې ده.

درنو هېوادوالو که دغه سیمې په پام کې ونیسو او د یادوشویو جګړه مارانو کړنو ته ځیر شو، نو له ځینو پوښتنو سره مخامخ کېږو، ځکه چې ټول لیکي او وایي چې کابل ګلبدین حکمتیار وران کړی دی، خو که داسې وي، نو حکمتیار په خپلو ځواکونو راکټونه ویشتل او که راکټونه یې هوا ته ویشتل اوبیا یې سرونه ورته نیول چې بیرته په دوی راشېوه کېدل؟؟ مجاهدینو به سرونه د هېواد د ژغورلو او یا د واک تر لاس کولو لپاره په ورغوي کې نیولي وي، مګر نه دا چې دومره احمق وي چې پر خپل ځان راکټونه هم وولي!

که د حکمتیار ډلو د کابل افشار، دېمزنګ، درېیمه کارته، څلورمه کارته او افشار ویشتلی وي، نو بیا خو حکمتیار د علي مزاري سیمې تر برېد لاندې نیولې دي، نو بیا په کوم منطق علي مزاري له حکمتیار سره په شورای همآهنګي کې یو ځای شو؟؟ او که زاړه مکروریانونه او جاده یې ویشتلې بیا یې نو د اوزبکانو ځواکونه ویشتل، نو بیا ولې عبد الرشید دوستم ورسره یو ځای شو؟؟ کله چې طالبان د کابل چاپېر راټول شول، نو ګلبدین حکمتیار پرته له جګړې ډګر ورته پرېښود. هوایي ځواکونه خو یوازې مرکزي دولت (رباني-مسعود) کارول او سیمې یې بمبارولې، اوس نو تاسو خپله قضاوت وکړئ، چې په افغانستان او کابل کې څه تېرېدل.

افغانستان ته هر څوک د خوږو مچ ګرځېدلی، هر پردی او خپل په افغانستان ملنډې وهي، چې د امریکایانو او نورو لوېدیزوالو د هغوی غلام ملک یانې د پولیند د بهرنیو چارو وزیر هم د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنې کړې او یا یې کوي او د ګلبدین حکمتیار د محاکمې غوښتنه یې په یوه مرکه کې کړې وه، چې ګواکې هغه د BBC ژورنالیست میرویس جلیل او یو انځور ګر په وژلو تورن دی، خو زه د انځور ګر په اړه مالومات نه لرم، مګر د میرویس جلیل په اړه مې د نویمو کلونو په پیل کې لوستي ؤ، چې مرحوم میرویس جلیل په بامیان کې له علي مزاري سره مرکه وکړه او په سیمه کې یې د هزاره ګانو د ځواکونو یو مستند فلم واخیست، چې وروسته له دغه پېښې د بامیان-کابل په لاره په مرموزه توګه ووژل شو، چې هلته د هزاره ګانو او مسعود ډلې واکمنې وې او زه نه پوهېږم چې ولې هر څه په حکمتیار تپېږي؟؟ او یا دا چې د یو کلي د یتیم ماشوم کیسه ده.

ويل کېږي، چې په يوه کلي کې د يوې خانداني مېرمنې باد مات شو، نو يو يتيم ماشوم يې چې تر څنګ ناست ؤ نو هغه يې په څپېړه وواهه او ورته يې ووېل: نه شرمېږې دا دې څه وکړل! خو ماشوم ورته په معصومانه سترګو وکتل او سترګې يې له اوښکو ډکې شوې، خو چپه خوله پاتې شو. يو ځو شېبې لا نه وې تېرې چې د بلې کومې خانداني ميرمنې باد مات شو، لکه چې ډېر ناخود، موشنګ او يا باقولي يې خوړلي ول، خو دغه مېرمنې هم هغه يتيم ماشوم په څپېړه وواهه، نو مخکنۍ مېرمنې ورته نارې کې چې دغه ماشوم دې ولې وواهه؟ نو مېرمنې په ځواب کې ورته وويل: ما ګومان کاوه، چې په دغه کلي کې چې د هر چا باد مات شي، نو دغه ماشوم بايد په څپېړه ووهي! نو درنو هېوادوالو اوس هم که په نړۍ کې د هر چا باد مات شي، نو څپېړه يې افغانستان خوري، که په افغانستان کې د هر چا باد مات شي، نو څپېړه يې پښتانه خوري او که په سياسي ګوندونو کې د چا باد مات شي نو څپېړه يې حکمتيار او يا طالبانو ته تياره نيولې ده!!

## د سـولې پلـوشـې

د طالبان غورځنګ: په هېواد کې ملکولطوايفي، بې امنيتي، د هېواد دورکېدو او ټوټېکېدو ګواښونه، د خلکو په لورانو، ښځو او زامنو تيري، د وګړو ډلييزې وژنې او د هېوادوالو ټولنيزو نا خوالو په پښتني سيمو کې ځيني افغانان دې ته وهڅول چې راټول شي او د افغانستان بيا ژغورنې ته لاس سره ورکړي او هېواد وژغوري، دغه ډلې د طالبانو په نامه سر راپورته کړ او خلکو د سولې پربښتې ونومول او استاد برهان الدين رباني هم د سولې پلوشې يادول. طالبانو د خپلو وينو په بيه د افغانستان د بشپړتيا ګواښ له منځه يوور، په هېواد کې يې ټولنيزه انارشي له منځه يووړه او په هېواد کې يې امنيت راووست. د سولې د پربښتومشري هغه مهال او وسمهال ملا محمد عمر مجاهد کوي.

د غورځنګ د جوړېدو په پيل کې يې په کندهار کې د ملا نقيب او ريس عبدالواحد خان ملاتړ هم تر لاسه کړ، خو ملا غفار اخوندزاده او حاجي سرکاتب ورسره په جګړو پيل وکړ، چې پايله يې د داوړو ماته او تېښته شوه. طالبانو په ډېره لږه موده کې د کندهار، هلمند، روزګان، زابل، فراه او داسې نورو پښتني سيمو واک تر لاسه کړ. په ۱۹۹۲ م کال يې واکمني تر کابله خپره شوه.



د کابل په جګړو کې یې د هزاره ګانو واکمني د ښار په جنوب-غرب کې له منځه یووړه چې د علی مزاری په مړینه پای ته ورسېده او په 1998 م کال کې یې د شمال ولایتونو واکمني هم تر لاسه کړه او د هېواد بشپړتیا یې وژغورله، په هېواد کې یې امنیت رامنځ ته کړ او د هېواد د لمنځه تللو ګواښ یې له منځه یووړ.

طالبان د ۱۹۹۲ کال په مني کې کابل ته راورسېدل او د کابل له نیولو سره یې سم ډاکتر نجیب الله مړ کړ او د آریانا څلور لارې سره یې وځړاوه، چې د مرحوم نجیب الله سره یې یو ورور هم په شهادت ورسېد. داسې ویل کېږي، چې د ډاکټر نجیب الله او د هغه د ورور وژل د مرحوم ملا رباني په امر تر سره شوي دي، ځکه چې هغه مهال ملا رباني د کابل د جبهې یو قوماندان ؤ او داسې څرګندونې هم کېږي چې ګواکې د ملا رباني دوه ورونه او نور د کورنۍ غړې یې د کمونېستانو په واکمني کې د خاد لخوا وژل شوي ول او مرحوم ډاکتر نجیب الله هغه مهال د خاد رئیس ؤ.

ځیني لیکوال بیا لیکي چې ډاکټر نجیب د پاکستان د «ISI» په نغوته وژل شوی دی، ځکه چې ډاکتر نجیب الله د ډیورند کرښه نه منله او کومه پاڼه یې نه لاسلیکوله، خو زما په ګومان د ډیورند د کرښې پرابلم د یو شخص څه چې د پارلمانونو واک هم نه دی، د ډیورند د کرښې ستونزې ته به ټول افغانان د پای ټکی ږدي، خو د ډاکتر نجیب په اړه باید یاده شي چې هغه د کمونیستي واکمني په بهیر کې د خاد رئیس ؤ او بیا د افغانستان ټولواک، نو د کمونیستانو په واکمني کې په زرهاوو خلک د خاد د مسؤلینو لخوا ووژل شول، چې نن سبا یې یو غني نومی جنرال په جرمني کې د ډله ییزو وژنو په تور تر پوښتنو لاندې دی او د کمونیستانو د واکمني په موده کې، د روسیې عالم اندرې دیمیترویچ سخروف «Sacharov» په وینا لږترلږه ۲ میلیونو افغانانو خپل ځانونه له لاسه ورکړل او د ډاکټر نجیب الله په واکمني کې په پښتنو د سکاډ، لونا او اوره ګان غوبل روان ؤ او په کابل کې د ګلم جم، زورواکانو انارشي وه، چې ټول وګړي یې قرباني ول، نو طبیعي خبره ده چې په مرحوم ډاکتر نجیب الله چا ګلونه نه شنل او شاباسی یې نه ورته ویل.

د ملل متحد په مرکز کې له مرحوم نجیب الله سره د هغه ساتونکی جفسر او د ډاکټر نجیب د دفتر رئیس اسحاق توخی هم ول، مګر دغه دوه تنه د ملل متحد له دفتره ژوندي او سلامت تر پاکستانه او بیا هند ته ورسېدل، چې اسحاق توخی اوسمهال په هالند کې ژوند کوي او جفسر په امریکا کې. ښاغلی اسحاق توخی د پېښې ژوندی شاهد دی، مګر تر ننه پورې یې د ډاکټر نجیب د مړینې راز افشا نه کړ او هر ځله لکه د هندي فلمونو ناټک یوه ببولاله وایي.

اسحاق توخی ټینګار کوي، چې کله طالبان د ملل متحد دفتر ته ننوتل، نو ډاکټر نجیب او د هغه ورور احمدزی یې له ځانه سره بوتلل او جفسر او ما هم ورته وویل چې موږ هم درسره ځو، خو طالبانو اسرار وکړ چې تاسو ته اړتیا نشته. وروسته له دې موږ (جفسر او توخی) ودرېدلو، نو کله چې نجیب او طالبان زموږ څخه ۵۰ متره لرې شول، نو د دوی په منځ کې غالمغال پورته شو او ټکوټوک شو، نو موږ منډه کړه او بیرته د ملل متحد په دفتر ننوتو، وروسته له یو څو شېبو د ملل متحد د دفتر یو موټړوان چې د وردګو ؤ، موږ ته یې وویل چې په هغوی (نجیب او احمدزی) پسې مه ګرځی، اوس ښه موقعې ده، نو له دغه ځایه وتښتی. د دغه سړي په سپارښت موږ (توخی او جفسر) د ملل متحد د دفتر له دېواله واوښتو او د چین سفارت پر خوا وتښتېدو او بیا مو موټر ونیو، چې ځانونه مو پټ ځای ته ورسول او بیا پاکستان ته ولاړلو.

د یادونې وړ بولم چې د ملل متحد د دفتر او د چین د سفارت دېوالونه لږ تر لږه ۴ متره لوړ دي، خو ګومان نه کوم چې په هغه دېوال پرته له زینې څوک وکولای شي پورته شي او بیا پرته له دې چې پښې یې خوږ او یا ماتې شي ځان ترې راښوه کړي او عجیبه خبره ده، چې په دغه سیمه کې نور طالبان نه ول چې د سیمې امنیت په هغه حساس وخت کې ونیسي!! زما په ګومان ښاغلی توخی او جفسر د بالیوډ د ناټکونو په خوبونو لاهو دي او یوائې ښاغلی اسحاق توخی او جفسر په دغو اپرتو باور کوي او بس.

طالبانو وروسته له کابله د شمال ولایتونو د آزادولو او له یاغیانو څخه د خلکو د ژغورلو عزم وکړ او په ۱۹۹۷ کال یې له پهلوان مالک سره تړون لاسلیک کړ، چې د رشید دوستم په راپرځولو کې ورسره مرسته وکړي. د خبرواترو مشري ملا محمد عباس اخوند، ملا احسان الله احسان او ګڼشمېر نورو کوله، چې د ځینو غوښتنو پر بنسټ پرېکړه وشوه، چې په هغې کې د مالک واکمني پر ځینو سیمو، د مسلحو ګروپونو څخه د سلاح ټولول او د بندیانو تبادله وه،

چې د دغه پرېکړې په ترڅ کې تورن اسماعيل خان هم طالبانو ته وسپارل شو. طالبانو د بغلان او بادغيس له لارې د فارياب، جوزجان، مزارشريف او سمنګان ولايتونو ته ننوتل او رشيد دوستم پښې سپکې کړې، چې لومړی تاشکند او بيا ترکيې ته وتښتېدو، خو په استاد رباني د شپې خوب حرام شو، نو د فارسي له متله سره سم، چې وايي «حاضره بزن که ... غيرحاضر بروه!.

د طالبانو واکمني په شمال کې اوږده نه وه، وروسته له ۲ ورځو د پهلوان مالک ملېشو او زرو ګلمجمانو د طالبانو پر ضد بغاوت وکړ او طالبان په مزار شريف، جوزجان او فارياب کې محاصره شول او د ښارونو په کوڅو کې له هرې خوا د ګوليو باران پرې ووربد، چې د طالبانو د دغې تېروتنې په ترڅ کې په زرهاوو طالبان او د سيمې پښتانه زلميان د اوزبکو ملېشو د غوبل قرباني شول، چې په دې ترڅ کې ملا احسان الله احسان هم د شهادت جام پر سر واړاوه او پښتانه زلميان او طالبان په ډېر بد حالت ووژل شول.

د جوزجان ولايت د شبرغان ښار د اندخوی په بندر کې د قوماندان جوره بيګ په امر په سلهاوو تسليم شوي طالبان لومړی په پښو وويشتل شول او بيا د سړک پر سر وغورځول شول چې موټر پرې تېر او ببر شي، چې د دغو طالبانو پر مړيو ټوله ورځ موټر تېرېدل او د دغه وحشت په اړه ټولې غربي نړۍ او د بشر د حقوقو هڅاندو غوړونه کاڼه اچولي دي، ځکه چې بيا صليبي جګړې ته تاوان رسېږي.

د طالبانو موخه د هېواد بشپړتيا او هوډ يې د غدارانو ورکول ول، نو په ۱۹۹۸ کال يې بيا په شمال سيمو کې نظامي عمليات وکړل او د ګلمجمانو ټغر يې ټول کړ. د طالبانو د دويم ځل راتګ سره، په ښارونو کې ټول خلک نيول کېدل او بنديخانو ته بېول کېدل، خو وروسته له پوښتنو او څېړنو څخه دغه خلک ټول خوشې شول او په هغو چا چې نورو خلکو عريضې کړې وې، هغوی محکمې ته ورو پېژندل شول.

د طالبانو واکمني د هېواد په ۹۵ ٪ خاوره خپره شوه او په هېواد کې بشپړ امنيت ؤ، خو هېواد کوم اقتصادي او د پرمختګ کوم ځانګړی پلان نه درلود او د هېواد نيمايي وګړي د لوږې له ګواښ سره مخامخ ول او په هېواد کې اسلامي بنسټپالنه روانه وه. د باميان بت طالبانو له منځه يووړ، چې وروسته له دې د طالبانو په واکمني کې افغانستان په نړيواله کچه تجريد شو، خو

دغه ډله ډېره ځوانه وه او د ځبرځواکونو او نړېوالو ښکېلاکګرو د چلونو بهير نه و ورته مالوم او د خپلې سياسي-خامي قرباني شول.

طالبانو عربي بنسټپالو ته په افغانستان کې ځای ورکړ او په افغانستان کې يې د نړيوالې اسلامي بنسټپالنې پلوي وکړه او افغانستان د نړيوالو کړکېچونو ډګر وګرځېد. پښتني ضد لنډغرانو له دغه فرصت څخه بيا ناوړه ګټه پورته کړه او له امريکا او روسيې څخه يې نظامي او اقتصادي مرستې تر لاسه کړې، چې د ۲۰۰۱ م کال د سپتامبر له پېښو څخه وروسته يې د امريکايانو تيري ته لبيک وويل او افغانستان يې د نوي يرغلګر خولې ته ورټېلواهه.

د طالبانو د نسکورولو لپاره امريکايي سياسي، نظامي او جاسوسي سازمانونو له هرډول روا او ناروا څخه کار واخيست او په شمال تلواله يې پيسې ووېشلې، چې د طالبانو پر ضد د امريکايانو مريتوب وکړي. د CIA يو لوړپوړی چارواکی په خپل يو کتاب کې ليکي، چې د امريکايي يرغل په ترڅ کې يې فهيم قسيم ته يو ميليون ډالره، بسم الله خان، معروف خان او ډاکتر عبدالله عبدالله ته يې په لکاوو ډالر ورکړل، چې د طالبانو په ضد د شمال خلک ولمسوي چې وجنګېږي. دغه امريکايي ليکي چې استاد سياف ته يې هم يو لک ډالره ورکړي ؤ چې په دې برخه کې بيا فهيم قسيم مخالفت کاوه، خو د امريکايانو خپل پلان ؤ او د پلورل شويو لاسپوڅو خبرو ته چا غوږ نه نيوه، ځکه نو امريکايانو د ۲۰۰۱ ميلادي کال د اکتوبر په ۷ نېټه په افغانستان بربنډه تېری وکړ او د امريکايي ديموکراسي يا افغاني تکنوکراتانو د انارشي د غميزې اور يې په افغانستان کې بل کړ.

## پايله

د افغانستان د تاريخ په اوږدو کې ښکېلاکګرو ځبرځواکونو د پښتني ضد هلې ځلې په افغانستان کې پياوړې کړې دي او قومي جنګونه يې لمسولي دي، چې د روسانو پر ضد د افغانستان مقدس جهاد هم د دغې پاليسي قرباني شو، نو افغانان بايد له دغه تاريخي تيروتنو عبرت واخلي او د هېواد چارو لپاره يوه سمه اداره رامنځ ته کړي، د صادقو افغانانو ملاتړ وشي او افغانان بايد پرېنږدي چې د افغان ولس علما، مخکښ پوهان او مشران د ښکېلاکګرو د دسيسو ښکار شي، چې افغان په افغان او ورور په ورور ووژل شي.

نن سبا امریکا دې ته غاړه ږدي، چې د افغانانو پر ضد یې جګړه بایللې ده او د تېښتې لاره لټوي، نو په دغه حساس حالت کې افغانان باید هڅه وکړي، چې ملي ارزښتونو ته درناوی وکړي او د یووالي هلې ځلې پیل کړي، چې په خبرو نه کېږي، مګر هر څه په عمل تر سره کېږي. له خواشیني سره باید یاده کړم، چې لوستي افغانان د دې توان نه لري چې یو موټی شي او د افغانستان لپاره یوه ځانګړې اداره رامنځ ته کړي، خو افغانستان د امنیت له ستونزو سره لاس او ګرېوان دی، چې د افغانانو نظامي ځواک په بېلابېلو ډلو وېشل شوی او یوازې له هغوی تمه کېږي چې په افغانستان کې امنیت رامنځ ته کړي.

په قطر کې د سولې خبرې له طالبانو سره رواني دي او د حزب اسلامي استازي د کرزي له دولت سره خبرې کوي، خو د سولې خبرې کېدلی شي تر یو او یا هم دوو کلونو دوام وکړي، چې په دغه موده کې به امریکایان هم له افغانستانه ووځي، نو اړینه ده، چې افغانان وروسته له ۲۰۱۴ میلادي کاله د افغانستان د برخلیک په اړه فکر وکړي، چې وروسته له هغې به څه کېږي!

د افغانستان په ټولنیزه اداره کې یو شی ډېر غوره دي، چې هر څه په اقتصاد چلېږي او د سولې په خبرو کې به هرې ډلې ته د مرستو ژمنه کېږي او جګړه هم تل پر وېش ده، نو زما سپارښت ښاغلي حکمتیار صیب او ملا محمد عمر مجاهد ته دا دی، که دغه دوې ډلې د هېواد د امنیت چارو لپاره سره یو شي، نو بیا کېدی شي د ځانګړو افغانانو په مرسته یوه سمه ملي اداره رامنځ ته شي. باید یاده شي، چې وزارت په ځانګړو ښه سمبالېدلی شي نسبت بل چاته. د قوي ډلې په مقابل کې ورې پراګنده ډلې په مقاومت لاس نه پورې کوي، مګر که ورې ورې ډلې وي بیا نو هغه به مو حال وي لکه څه مو چې په نویمو کلونو کې په برخه ول. په پای کې دغه فلم هم وګورئ!

په درنښت

ستاسو د نېکمرغي په هیله

http://www.columnpk.com/kharota-abad-scandal-chechen-woman-photo-killed-by-fc-balochistan/